**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اڅړ ۲۰۲۴/۰۴/۱۰

# د یهودو عادلانه جګړې

## (اوومویشتمه برخه)



(هغه ت‌رودونکي فلسطیني ماشومان چې د غزې په روغتونونو کې د اسراییلي دولتي ترهګرو د محاصرې له امله له لوږې مړه شوي دي.)

**د یهودو پیغمبران او نبیان او د پیغمبرانو وژنې (۳)**

**د پیغمبرانو وژنې**

یهودانو د تاریخ په اوږدو کې نه یوازې له غیریهودي وګړو سره ناانساني کړنې ترسره کړي دي، بلکې هغه اسراییلي پیغمبران یې هم په بې رحمۍ سره وژلي او شکنجه کړي چې د دوی د ناروا کړنو مخه یې نیوله.
عیسی (ع) چې د یهودو وروستی پیغمبر ؤ (او د یهودو لخوا یې د وژلو هڅې وشوې) عیسی د یهوه خدای له قوله وایي چې د پیغمبرانو پخواني قاتلان او اوسني یهودان د هغو پر پله درومي:«افسوس ستاسو پر حال ای دومخو دیني عالمانو او فریسیانو،[1] **ستاسو نیکونو پیغمبران وژلي دي** نو اوس په خپلو لاسونو د یادساتلو ځلي او نبښي پرې جوړوئ او د سپیڅلو [کسانو] مړیستونونه چې د دوی په لاسونو وژل شوي دي، ښایښته کوئ او وایي چې که هغه مهال موږ د خپلو نیکونو پر ځای وای موږ به پیغمبران نه وای وژلي.
د دا ډول څرګندونو سربېره، **په خپله ژبه وایي چې د پیغمبرانو د قاتلانو زامن یو. تاسو پله پر پله د هغوی پر پله روان یاست، تاسو په بدو اعمالو کې له هغوی څخه وړاندې شوي یئ، ای د ښکلو لیکو برګو منګورانو (مارانو)! څه ډول کولی شئ د جهنم له عذابه ځانونه وژغورئ؟**
زه [یهوه خدای] به انبیا، حکیمان او روحانیون دروا‌ستوم، تاسو به ځیني په دار کړئ او ځیني به په خپلو عبادتځایونو کې په متروکو ووهئ او په ښارونو کې به یې لالهانده او سرګردانه کړئ. په دې توګه به د بې‌ګناه خلکو (چې شهیدان

[1]: فریسیان: د یهودو یوه مذهبي ډله وه خو په تورات او قرآن کریم کې یې یادونه نه ده شوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

شوي دي) د وژنو [ګناه] به ستاسو پر غاړه وي، له معصوم (هابیل) نیولې تر (زکریا) د برخیا زوی[2] چې هغه مو د یهوه خدای په کور کې د ننه، د عبادتځای او قربانځای په منځ کې واژه.
**باور وکړئ چې د دغو ټولو ګناهونه به د دغه نسل پر غاړه وي.»** (متي انجیل:۲۹/۲۳تر۳۶پورې؛ لوقا انجیل:۴۶/۱۱تر...)
د یهودو لخوا د پیغمبرانو وژل او ځورول له یوسف پیغمبر څخه پیل او د عیسی پیغمبر (د یهودو په وینا) په وژلو[3] پای ته رسیږي. د اسراییلو پیغمبر، یوسف د یعقوب زوی (چې هغه مهال لا ماشوم ؤ) د خپلو ورونو له لاسه شکنجه او بیا په مصري سوداګرو پلورل شوی ؤ.[4]
یوسف د یعقوب کشر زوی ؤ، هغه به د خپلو ورونو د ناوړه کړنو مالومات خپل پلار ته ورکول، سربېره پر دې، یوسف یوه شپه خوب ولید او خپلو ورونو ته یې وښود، هغه وویل:«خوب مې ولید چې موږ په پټیو کې ختي (ګېډی) تړو چې ناڅاپه زما څتی په ولاړې پورته شو او ستاسو ښتي زما له ښتي څخه راتاؤ شول او هغه ته یې درناوی وکړ. د یوسف ورونو وویل: غواړې پاچا شې او پر موږ پاچاهي وکړې؟ هغه وو چې د یوسف خوب د هغه د ورونو کېنه لاپسې زیاته کړه.
یوسف یو ځل بیا خوب ولید او هغه یې هم خپلو ورونو ته واوراوه: سپوږمۍ، لمر او یوولسو ستورو ما ته درناوی وکړ. دا ځل یوسف خپل خوب خپل پلار ته هم ووایه خو پلار یې هغه ملامت کړ ویې ویل: دا څه ډول خوب دی چې لیدلی دې دی؟ ته غواړې زه او مور او ورونه دې تا ته درناوی وکړو؟ ورونو یې له هغه سره کینه او ضد کاوه خو پلار یې د هغه د خوب په اړه په فکر کې ؤ.» (د پیدایښت کتاب:۶/۳۷تر۱۱پورې)
وروسته له دې د یوسف ورونو د هغه د وژلو تصمیم ونیو، هغه مهال چې یوسف په دښته کې د خپلو ورونو په لټه کې ؤ نو کله چې خپلو ورونو ولید:«یو بل ته یې وویل: ستر خوب‌لیدونکی رادرومي، **راځئ چې هغه ووژنو او په دغو ځاګانو کې یې وغورځوو او خپل پلار ته به ووایو چې هغه داړونکي ځناور خوړلی دی.** بیا به وګورو چې خوبونه یې څرنګه کیږي خو (ریوبین) چې دا واورېدل په دې هیله چې هغه وژغوري ویې ویل: هغه باید مړ نه کړو او وینه یې تویه نه کړو، هغه به دغه ځا ته وربښکته کړو، نو پرته له دې چې هغه ته مو لاس وروړی وي، پخپله به مړ شي.
... هغه وو چې کله یوسف خپلو ورونو ته رانږدې شو په هغه یې برید وکړ، د هغه رنګین کالي (چې پلار ورکړي وو) ترې وایستل، بیا یې هغه کوهي ته ورکوز کړ چې اوبه نه وې په کې... د یوسف ورونو ناڅاپي ولیدل (چې له لېرې د اسماعیلي سوداګرو د اوښانو بهیر رادرومي چې کتیرا او درمل یې له (جلعاد) څخه مصر ته بار کړي وو. د یوسف ورور (یهودا) نورو ته وویل: وګورئ د اسماعیلیانو کاروان رادرومي، راځئ چې یوسف پر هغو باندې وپلورو، د هغه وژل او پټول موږ ته څه ګټه لري؟ هغه زموږ ورور دی، زموږ په لاس باید ونه وژل شي. د هغه ورونو د یهودا وړاندیز ومانه. [او یوسف یې پر مصري سوداګرو وپلوره.]
د یوسف ورونو له یوې وزې سر غوڅ کړ او د وزې پر وینو یې د یوسف ښایسته کالي ولړل او هغه په وینو ککړ کالي یې یعقوب ته یووړل.» (پیدایښت:۲۰/۳۷تر۳۲پورې)

---

[2]: زکریا د برخیا زوی: په تورات کې زکریا د (یهویاداع) کاهن زوی بلل شوی دی. دا هغه زکریا نه دی چې له عیسی (ع) څخه لږ وړاندې د یهودو د معبد کاهن او د (یحیی) پیغمبر پلار ؤ.

[3]: د قرآن حکیم په نساء سورت کې د عیسی (ع) د نه وژلو په اړه راغلي وایي:﴿وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا ٱلْمَسِيحَ عِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ ٱللَّهِ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَـٰكِن شُبِّهَ لَهُمْ ۚ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ لَفِى شَكٍّ مِّنْهُ ۚ مَا لَهُم بِهِۦ مِنْ عِلْمٍ إِلَّا ٱتِّبَاعَ ٱلظَّنِّ ۚ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًۢا(۱۵۷) بَل رَّفَعَهُ ٱللَّهُ إِلَيْهِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا(۱۵۸)
ژباړه: او د دوی خبرې چې:«موږ د الله پیغمبر، مسیح عیسی د مریمې زوی وژلی دی. په داسې حال کې چې نه یې هغه وژلی او نه یې په دار ځړولی دی. بلکې پېښه د دوی لپاره ورته (مشتبه) وګرځول شوه. او کومو کسانو چې د هغه [د قتل] په هکله اختلاف وکړ، هغوی [پخپله] په شک کې دي او په دې اړه پوهه نه لري، یوازې په ګومان پسې ځي او هغه یې هېڅکله نه دی وژلی. بلکې الله هغه خپل لوري ته اوچت کړ، الله ډېر زیات زورور او د حکمت ښښتن دی.» (نساء:۱۵۷-۱۵۸آیتونه)
[4]: د یوسف کیسه د تورات په پرتله په قرآن کریم کې په ډېره ښه توګه راغلې ده خو موږ غواړو د یهودو د تورات د پیدایښت کتاب پر بنسټ د نوموړې کیسې هغه برخه چې یوسف د خپلو ورونو لخوا زورول شوی مالومات وړاندې کړو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د سلیمان پاچا له مرګه وروسته چې د اسراییلو پاچاهي په (شمالي او جنوبي) برخو ووېشل شوه نو ورپسې په یهودو کې د پیغمبرانو او نبیانو وژل هم پیل شول، هغه مهال چې د (اسراییل) شمالي هېواد پاچاهي د (اخاب) نومي په لاس کې وه، نو د اسراییلو بت‌پرستۍ لوړې کچې ته رسیدلي وې او د یهوه خدای انبیا، پرته له (ایلیا= الیاس) نبي څخه نوري ټول وژلي وو، وروسته له هغې چې ایلیا نبي اسرایلو او اخاب پاچا ته د یهوه خدای یوه معجزه ښکاره کړه نو حاضر اسراییل د بت‌پرستو انبیاوو پر خلاف شول، د بتانو په سلګونو انبیا یې ووژل چې د دغو انبیاوو ملاتړ د اخاب پاچا د ښځې (ایزابل) لخوا کیده نو «کله چې اخاب خپلې ښځې ایزابل ته وویل چې ایلیا څه وکړه او څه ډول یې د بعل بت انبیا ووژل، نو ایزابل ایلیا ته دا پیغام ولېږه: تا زما انبیا وژلي دي، پر خپلو خدایانو مې قسم دی چې سبا تر دې مهاله به تا هم ووژنم. ایلیا دغه پیغام واورید او له وېرې د یهودا، (بیرشیع) ته وتښتید... ایلیا څلوېښت شپې ورځې مزل وکړ چې د (حوریب) غره ته (چې د خدای په غره مشهور دی) ورسید او په یوه سوړه کې یې شپه تېره کړه. یهوه خدای هغه ته وویل: ایلیا دلته څه کوې؟ ایلیا ځواب ورکړ: ما تل ستا لپاره خدمت کړی دی خو د اسراییلو قوم ستا سره کړي ژمنې ماتې کړې دي، ستا قربان‌ځایونه یې وران کړي **او ستا ټول انبیا یې وژلي دي، یوازې زه پاتې یم، اوس غواړي ما هم ووژني.»** (د پاچاهانو لومړی کتاب:۱/۱۹تر ۱۰پورې)
د اسراییلو انبیا چې د اخاب پاچا د ښځې ایزابل لخوا وژل شوي وو او ایلیا نبي په تېښته بریالی شوی ؤ، نو یهوه خدای (ییهو) نومی کس، د اخاب پاچا پر ځای پاچا کړ او هغه ته یې وویل: **«ته باید اخاب له منځه یوسې او زما د انبیاوو او خدمتکوونکو غچ (چې د اخاب د ښځې ایزابل په لاس وژل شوي دي) واخلې.»** (د پاچاهانو دوېم کتاب:۸/۶-۷)

کله چې د یهوه خدای غوره کړي او ځانګړي قوم یو ځل بیا د بتانو لمانځل پیل کړل نو (زکریا) نبي د دوی د کړنو او ګروهې پر خلاف ویناوې وکړې، هغه وو چې یهودانو زکریا نبي په ډېر بد حالت، د یهوه په معبد کې په تیږو وویشت او ویې واژه چې په اړه یې د اسراییلو د تاریخونو په دویم کتاب کې وایي:«د یهویاداع [کاهن] له مرګ وروسته د یهودا مشران د یهودا پاچا (یوآش) ته ورغلل او هغه یې وهڅاوه چې د خپلو نېکونو له خدای یهوه له کور څخه لاس واخلي او له دوی سره د (اشیره) شرموونکی بت او نورو بتانو لمانځنې وکړي. پاچا د دوی خبرې ومنلې چې له امله یې یو ځل بیا د یهوه خدای قهر پر یهودا [هېواد] او اورشلیم [ښار] باندې نازل شو. یهوه خدای انبیا راولېږل تر څو هغوی د ځای پر لور راوګرځوي خو خلکو پام ونه کړ.
هغه وو چې د یهوه خدای روح پر زکریا د یهویاداع پر زوی کېناست. زکریا د اسراییلو قوم په مخکې ودرید ویې ویل: یهوه خدای وایي: ولې زما له اوامرو سرغړونه کوئ؟ او ځانونه په مصیبت کې غورځوئ؟ تاسو زه پرېښې یم، زه به هم تاسو پرېږدم.
**د یهودا مشرانو د زکریا پر ضد توطیه جوړه کړه او د یوآش پاچا په امر یې د یهوه خدای د کور په انګړ کې سنګسار او ویې واژه.**
یوآش پاچا د [زکریا د پلار] یهویاداع ښېګڼې هېرې کړې او د هغه زوی [زکریا] یې وواژه. زکریا وړاندې له خپل مرګه وویل: خدای دې دغه حالت ویني، له تاسو دې پوښتنه وکړي.» (د تاریخونو دویم کتاب:۲۴/۱۸تر ۲۲پورې)

د یهودو څو تنه مشرانو په هغه دعا کې چې یهوه خدای ته یې کوي، پر خپلو ګناهونو او د پیغمبرانو پر وژلو اعتراف کوي، وایی چې کله اسراییل په خپېته ماړه شول او د یهوه خدای لخوا بې‌شمېره نعمتونه ورکړل شول، نو یاغي او باغي شول او «ستا پر وړاندې یې سرکښي وکړه او یاغي شول، ستا اوامرو ته یې پام ونه کړ **او ستا انبیا (چې کوښښ یې کاوه دوی ستا پر لور راوګرځوي) ووژل او په دې کړنو یې ستا سپکاوی وکړ.»** (د نحمیا کتاب:۹/۲۶)

د اسراییلو یو بل مشهور نبي (ارمیا) د یهوه خدای له لوري وایي چې د اسراییلو قوم به د خپلو بت‌پرستیو او انبیاوو د وژلو له کبله مجازات او وبه شرمیږي، یهوه خدای وایي:«زما قوم به داسې وشرمیږي لکه غل چې په غلا کې نیول شوی وي، پاچاهان، مشران، کاهنان او نبیان به هم له دا ډول حالت سره مخ شي، توږلی لرګی خپل پلار بولي او له تیږې جوړ شوی بت خپله مور بولي... **تاسو زما انبیا داسې وژلي، لکه زمری چې خپل ښکار وژني.»** (د ارمیا کتاب:۲/۲۶تر ۳۰پورې)
ارمیا نبي د اسراییلو پر کاهنانو او چارواکو سختې نیوکې کولې او د هغوی بت‌پرستۍ یې غندلې، زناکاران او د مستو آسونو په څېر یې بلل چې په ښځو پسې د آسونه غوندې ششنیږي. د ارمیا د دا ډول نیوکو له امله کاهنانو د یهودو پاچا (صدقیا) او نور چارواکي ولمسول او هغه ونیول شو، په ختین او بویین کوهي کې یې بندي کړ چې له مرګ سره مخ شو، ارمیا د خپلو ځورونو په هکله وایي:«زه لکه بې‌آزاره ورى چې حلالولو ته یې بیایي په هیڅ بدګمانه نه وم او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هېڅکله مي فکر نه کاوه چې ما به څوک ووژني، په داسې حال کې چې دوی به يو بل ته ويل: **راځئ چې دا سړی ووژنو چې هم په‌خپله او هم يې پیغامونه له منځه ولاړ شي. راځئ هغه ووژنو تر څو نوم يې ورک شي.»** (ارمیا:۱۱/۱۹)
دا مهال ارمیا له يهوه خدای څخه غوښتنه کوي چې دغو خلکو ته سزا ورکړي. «يهوه خدای په ځواب کې ووېل: د (عناتوت) اوسيدونکي چې ستا د وژلو نقشه يې جوړه کړې ده، ټول به مجازات شي، هغوی تا ته وايي: **د يهوه خدای په نوم نبوت مه کوه، که نو تا به ووژنو.»** (ارمیا:۱۱/۲۱-۲۲)
ارمیا نبي يې د جاسوسۍ په تور بندي کړ، هغه وايي:«... هغوی پر ما په قهر شول او زه يې په متروکو (ذُره) ووهلم او تور کوهي ته يې واچولم... زه په هغه ځای کې د ډېرې مودې لپاره بندي وم. په پای کې صدقيا پاچا په ما پسې څوک راولېږل او سلطنتي ماڼۍ ته يې بوتلم، هغه په پټه له ما پوښتنه وکړه: د يهوه خدای لخوا کوم نوی پیغام لرې؟ ومې ويل: هو! يهوه خدای وايي چې ته به د بابل پاچا ته تسليم شې... صدقيا پاچا امر وکړ چې ما په هغه تور کوهي کې بندي نه کړي او د پاچاهۍ ماڼۍ په زندان کې مې وساتي... .» (ارمیا:۳۷/۱۶تر۲۱پورې)
ارمیا نبي يو ځل بیا وړاندوينه وکړه چې اورشليم به د بابل پاچا لخوا خامخا نيول کيږي نو څوک چې تسليم شي ژوندي به پاتې شي. ارمیا نبي د خپلو دا ډول وړاندوينو له امله اسراييلو د دويم ځل لپاره په تور کوهي کې بندي کړ، ارمیا وايي:**«... هغوی زه له زندانه بهر کړم او په پړي يې کوهي ته ورکوز کړم... په هغه کوهي کې اوبه نه وې خو په تل کې يې ختې وې چې په کې کښېوتم.»** (ارمیا:۳۸/۶)
په پای کې صدقيا پاچا ارمیا نبي دويم ځل له تور کوهي څخه سلطنتي زندان ته لېږي او کله چې اورشليم د بابليانو لخوا ونيول شو نو ارمیا يې هم له زندانه خوشې شو.



(د غزې معصوم ماشومان او د اسراييلي شيطانانو ړندې بمبارۍ)

نېټه:۱۴۰۳/۱/۲۲ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلي محمد انور اخېر نوري ليکنې په دې لينک کې ولولئ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ